ليکونکي : world Asia
دخپريدو نيټه : 20-4-2016
ژباړونکي : پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل» .

---

# افغانستان : دناټو ناکامه تجربه

Afghanistan : NATO Failed Experiment

افغا نستا ن د نا تود پا ره با يد يو تلپا تی ازموينه اووسی . د افغانستان د پرمخکی اچونی اود ټولنيزدپرمختګ اوديو پراخ بنسټه دولت دجوړونی انديښنه په کال (۱۹۷۰) کی کوم چی دعا مه خلکو د پا ره دچوپړتيا وی فرصتونه بايد ورپه برخه کړای وای رامينځته شو اما دچپاولګروترووريستی با ندونه پواسطه سره دپاکستان دپولو څخه د خا ليوځی (خاپوړی) په بنه د نا تو دما لی مرستی اوملاتړ سره په افغانستان کی دشوروی د ميشته قوتونود کمزوروولو اوپر هغو با ندی دغلچکی بريدونو په کولو سره دی غاړی ته راواغوښتل او په ورانی باندی لاس پوری کړل .



**دترهګری دپد يدی ملاتړ دغرب پواسطه سره:** په پا يله کی دغه ټولنيز مترقی حکومت کوم چی دهغه ترر هبری لاندی ښځی خپل ټول حقونه اوآزادی درلودل کوچنيا نو هڅول کيدل چی ښونځيو ته لاړ شی له دی نه چی په ګوليو باندی وويشتل شی يا ښځي دعامه خلکوپه محضرکی سنګسارشی يا دهغو لاس

اوپښې پرېکړل شی له خپل دوست هیواد شوروی اتحاد څخه وغوښتل چې ددغه مترقی دولت په دفاع کې دتروریستی کرغیړنو باندونو پرضدچې دغربی نړی پواسطه سره ملاتړ کیدل ودرېږی اوخپل انسانی مرستی دغه مترقی دولت سره ترسره کړی .

دافغانستان دغه پا تی تاریخی داستان او قصی لکه دمجاهیدینو بدلون طالبانو ته دوها بیت دطریقی مخلوط ،اسلامګرایی ، اسلامی قوانین ، افسانوی اوقومی قصی اوروا یتونه ...له یوه سره په مستند بنی سره د تا ریخ په پا نوکی ځای پرځای شوی دی چی راتلونکی نسلونه به ورنه ګټی پورته کړی.له بلی خوا څخه دچپاولګروسترګی دافغانستان د ستر طبعی روغ رمټ زیرمو په لوراود هغه د کیندونو موضوع له یوی خوا اودبلی خوا څخه دتریاکو د قاچاق او دهغه ترافیک اودشوروی اتحا په ګڼ ښا رونو کی د هیروین د خرڅلاو څخه دغتو پیسو اودپانګو د تر لاسه کولو مسله ټول هغه موضوعات دی چی دغه اجیر چپاولګرو دغرب تر ملاتړ لاندی ددی هدف دترلاسه کولو دپاره ملاوتړل چی خپل هد فونه تر لاسه کړی .

**دملګروملتونو له خوا ټکان ورکونکي راپور** :لکه هغسی چی مونږ په تاریخی لحاظ سره په نولسم پیړی کی دوحشی مغرور بریتانوی امپراطوری تسلط په افغانستان کی په یاد لرو یا داچی دشلم پیړی په دوم نیمایی کی دیو لسیز څخه زیات موده کی دشوروی اتحاد دنظامی قوتونو حضورمو په بی دفاع افغانستان کی ولید یاداچی اوس ددی یویشتمی پیړی په نیمایی کی په کال (۲۰۰۱) کی ناتو اودهغه سره نور مشترک نظامی قوتونه د سپتمبر د یولسم پیښی په بها نه سره پرافغانستان با ندی تجا وزکوی هغه نه هیرید ونکی واقعات دی کوم چی دهمدی تاریخی پیښو په نظرکی نیولو سره وروسته د پنځلسو کا لو په تیریدو سره ملګری ملتونه په دی اواخرو کی دغه لاند نی تکا ن ورکونکی راپور په نشر رسوی .

په دی راپور اوګذارش کی کوم چی په کابل کی دملګرو ملتونو نمایندګی یونیما(UNAMA) اود یونیسف (UNICEF) اداره په ګډه سره د جنوری کال «۲۰۱۳» څخه تر «۲۰۱۵» پوری احصایی راټول کړی دی داسی په ګوته کوی چی ډیری کوچنیا نو او تنکی ماشوما نودروغتیای اود تعلیمی اسا نتیا و ته دنه لاس رسنی له کبله لمړنی زیا ن منونکی ګروپونه دی چی پر هغوی باندی

ډیر ناوړه تاثیر غورځولی دی – په افغانستان کی د ملګرو ملتونو ځانګړی استاذی ښاغلی نیکولاس های سم (Nicholas Haysom) ددغه احصا یوی ارقا موپه نظرکی نیولو سره داسی نتیجه ګیری کوی اوهغه داچی ددی ګذارش اوراپورمحتویات ډیر ژور، بوږنونکی اوستونزمن ښکاری اوبیا په ځانګړی بڼی سره دښونکو، ډاکترانو ، نرسا نو اود پرستا رانو دمنلو وړ نه دی کوم چی هغوی دخپل دندی په موده کی دناوتریخوالی اود ګواښ څخه کا ر اخیستی وی اویا دا چی دښونځیو اود صحی مراکزو طبی وسا یل په نا سم بڼی سره په کار اچولی وی اویا پردغه وسا یلو باندی برید کړی وی اوبیا پخپل مالکیت باندی اړولی وی .

دبلی خوا څخه په دی راپور کی داسی په ډاګه شوی چی روغتیایی اودوایی اسانتیاوی له دی نه چی روغتیا یی پرسونل تښتول شوی – تپی شوی اویا داچی په قتل سره رسید لی دی لا پسی محدود شوی کوم چی اړوکسا نو روغتیای تسهیلاتو ته لکه دیخوا په شان لاسرسی له لاسه ورکړی دی مثلاً په کال (۲۰۱۴) کی دطبی پرسونل تښتونه ، تپی کید نه اویا په قتل رسید نه «۵۹» پیښی په کال (۲۰۱۵) کی ورته پیښی ( ۱۲۵) واقعات راجستر شوی دی اوهمدارنګه په معارف برخه کی (۱۳۲) واقعات دجګړی له امله (۱۱) دتعلیمی پرسونل د قتل پیښی (۱۵) دتپی کیدو پیښی او (۴۹) دتښتولو واقعات به کال (۲۰۱۴) کی ثبت شوی دی همدارنګه په کال (۲۰۱۵) کی «۳۹۶» ښونځی په زور اوجبر سره تړل شوی چی دهغه ښونځیو دتړل کیدو له امله (۱۳۹۰۰۰)زده کونکې زده کونکی له تعلیم اوله زده کړی څخه محروم شوی اودهغه په څنګ کی( ۶۰۰) ښونکی خپل دنده دلاسه ورکړی اوبی روزګاره شوی دی

په راپورکی دځنی مستند راپورونواواطلاعاتو څخه هم یادونه شوی کوم چی د جګړه ما روسړی وژنکو له طرفه طبی پرسونل په مرګ ګواښ شوی اویا تر وهلو ټکولو پریوتی اویا په زوره سره دوظیفی ددوام څخه منع کړل شوی اویا داچی د ښځینه زده کونکو کورنیو ته لیکونه استول شوی چی خپل لور منع کړی چی ښونځی ته لاړ شی کوم چی دغه تهد ید ات د تیر کال په پرتله سره (۱۸۲) سلنه زیاته ګذارش ورکړ شوی دی .

اما په افغانستان کی د یونیسف داداری مسول ښاغلی اخیل آیر( Akhil

Lyer)دخپل احصایوی ارقامو دترلاسه کولو په اړین داسی معلومات ورکوی :
ګڼ شمیر کوچینیانو اودهغوی کورنی په دی هځه اواند کی وه چی روغتیایی اوتعلیمی تسهیلاتو ته لاسرسی پیداکړی اما د نا امنی ، تاوتریخوالی دغربت اودناداری دلوړی کچي له ا مله چی دهیواد په هره برخه کی خپل کرغیړن لمن غوړولی وه ونشو کړلی چی تعلمیی اوصحی خد ما تو اوتسهیلاتو ته لاسرسی پیداکړی .
**جنسی ډاریډ نه** : دمعمول په څیر هغوکسا نو چی پر جنګو (ښځو) با ندی برید کوی اویا په هغوی کی ډارونی کوی چي داپخپله دبشر داساسی حقونو درعایت کولو څخه روښانه سرغړونه دی او ددی ګواښنو اوتاوتریخوالی اودسرغړونی زیاتر کسان همدغه اسلامی افراطی ډلی ټپلی دی چی په ښځو کی د جنسیت له لرلو څخه ډار (Genderphobia) را زیږوی.
افغا نستان ته دشوروی اتحاد درا داخلیدو اصلی هد ف دا وه چی باید ددغه دغرب ترحمایی لاندی تروریستی ډلی ټپلی پر ضد په جګړه لاس پوری کړی اود دغه مترقی دولت څخه دترورستا نو په مقابل کی ملاتړ وکړی چی دولت له انقراض څخه وژغوری. لاکن له بده مرغه چی «ناتو » د دغه سرکش اوآزادی غوښتونکی ملت او ددی هیواد درامینځته شوی مترقی حکومت دځپلو اودافغانستان دآزادی دوست ملت ته دسزا ورکول په نیت پردی هیواد با ند ی تجا وزوکړ اوس پس له څو لسیزو زمینه داسی مساعده شو چی ملګری ملتونه دی ته اړ کیږی چی داسی یو راپور په نړیوال سطح باندی په نشر ورسوی نو دهمدی اصل په نظر کی نیولو سره که چیری « ناتو» پرافغانستان باندی تیری نه وای کړی اویا که په همغه لنډو ورځو کی له افغانستان څخه وتلی وای ددی امکان نه تر سره کید ل چی دغه ننی نسل د داسی کړاونو اوبد مرغیو سره مخا مخ شوی وای .
مونږ همدارنګه د «ناتو» لاس وهنه اودهغه مداخله او تجاوز دنړی په نورو هیوادونوکی هم ولیدل چی د همدی نظامی سا زمان د مداخلی په نتیجه کی همغوهیوادونه دړی وړی شو - لکه په کوزوو(Kosovo) کی مداخله تر هغه چی هغه هیواددالبانایی تروریستا نوترولکی لاندی په د مخد ره توکو په دولت واوړیدل یا راښکته شو ( دکوسوویوالبانی مهاجرچی پورته نه کتل داسی یادونه وکړ چی زه هم یولوړپوړی البانیایی افسر یم ) یا په عراق کی چی د« ناتو»

په تجاوز سره هلته اړدوړ، بیکاری رامینځته شو او په هیواد کی کورنی جګړه پیل شو یا په لیبیا کی دناتو تجاوز یعنی په هغسی یو هیواد کی چی دافریقی په وچه کی دپرمختګ اودانکشاف یوه نمونه او دلوړی کچی خاوند وه هغه دولت یی رانسکور کړ اوپری نښود چی هغه دولت د خپل پرمختګ واتونه یو دبل پسی را لنډه کړی . یا په سوریه کی چی دناتو په مرسته سره هلته د عراق – سوریی اسلامی دولت د ناتو تر پزی لاندی سر راپورته کړ اورا مینځته شو یا دناتو مداخله په اوکراین کی چی په نتیجه کی هلته په دموکراتیک بنی سره منتخب جمهور ریس دیوغیرقانونی کودتا په ترخ کی یی رانسکور کړل او هلته دغه نوی فاشستی واکمنانو یا کودتاچی دولتی چارواکی ټول روسی ژبی په دی بها نه چی هغوی داوکراین یهود یا ن په مرګ تهد ید وی قتل عام کړ ددی پورتنیو یادونه څخه دا نتیجه تر لاسه کو چی مونږ انکشاف او پرمختګ ته ضرورت لرو نه داچی د «ناتو» نا بللی سربازان چی هر چیری وغواړی پلی اوځای پرځای شی نودهمدی اصل په بنیا د په ډاګه ویلی شو چی« ناتو» هروخت –هروخت – هروخت اشتباه کوی -« ناتو» دنوی امپریالیزم دلاس یو ابزار یا وسیله دی کوم چی دهغه پواسطه سره په دیرمغروراوتکبر دانسانی ټولنو دبربادی اودتخریب موجبات برابروی یعنی دلته په ډاګه ویلی شو چی ناتو هر وخت او هروخت اوبیا په تکرار سره هروخت غلطی اواشتباه کوی د خلکو ژوند دهغوی دلاسه اخلی او په زرګونوانسا نا نواو خلکو د نا ا میدی اود ناهیلی سره مخامخ کوی نو دهمدی پورتنی تذکراتو څخه ویلی شو چی «ناتو» پخپله یو تروریستی سازمان یا پیمان دي .

------------------------------------------- **په درنا وی**